# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



## محمدحسين "ريدي"

۱۳۰۱ - ۱۳۷۳ ه ش.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

ارواښاد ښاغلی محمدحسین "ریدي" د محمدانور زوی د محمدسرور لمسی، د محمدسید کړوسی د فیض محمد کوسی چه مشهوره په فیض لوڼ سره وو، په خټه لوڼ د بادرده او حساسو زلمیو  شاعرانو څخه وو چه په سنه ۱۳۰۱ ه ش کال د کندهار ښار دبامیزو په کوڅه کي په یو درنه کورنی کي زیږیدلی او لومړني تعلیمات ئې د کندهار په ښوونځی کی سرته رسولي وه، خو د لوړو تحصیلاتو په باب کي ده په خپله داسي لیکلي دي.

څرنگه چي زه د پلار مشر زوی او پلار مي د سوداگری په چارو اخته و، نو ځکه ما ته د لوړو تحصیلات فرصت پیدا نه و او د پلار سره مي د سوداگری په کارو کي مرسته کوله اما سربیره پردې مي محیطي مروج علوم ولوستل او د عصري علومو مطالعه مي هم تر هغه ځایه چه قدرت درلود وکړه.  او په همدې جریان کي یې په تصوف کي لوړه برخه د ذاکر شریف د استاذ شریعت او طریقت لوړ شخصیت غلام محیي الدین جان آغا صاحب څخه وړې او ارواښاد ښاغلی "ریدي" د خپل شعر په باب کي داسي وائي:

د شعر او شاعري سره مي د ځواني په ټاپي مینه پیدا شوه او بیا داسي لیکلي چي اقرار کول هم دلته غواړم چه زما اشعار په ښائي د معاني او ادبي فنونو سره برابر نه وي، ځکه چي زه شعر د احساساتو او باطني تاثیراتو مولود بولم او کله کله چه کوم شعر زما څخه ویل کیږي هغه باید تش زما د دردونو او باطني جذباتو مظهر وباله شي، نه دا چي د ادبي فنونو تفنن وگاڼه شي...)

ارواښاد ښاغلی "ریدي" سربیره پرشاعري په اجتماعي ژوند کي یو حساس او دردمن انسان او د ملگرو په ټولی کي یو صمیمي ملگری او د زلمیانو په ډله کي یو ویښ زلمی و ده خپل حساسیت او درد کله کله په شعرونو کي څرگندوئ. ارواښاد ښاغلی "ریدي" د ژوندانه په اخیري شپبو کي د ډېرو کړاوو سره مخامخ او د راغلي روسي ښکیلاکگرو د جریان په وخت کي ئې د دوو زامنو په شهادت سره ډېر غمگین شو چه یو احمدضیا نومېدئ چه د (۱۹) کالو او اتو میاشتو په سنه ۱۳۶۲ ه ش د حمل پر (۱۲) په شهادت ورسېدئ او مشر زوی ئې چه محمد داؤد نومېدئ په سنه (۱۳۶۷) ه ش کال کي په شهادت ورسېدئ. ارواښاد ښاغلی "ریدي" په سنه (۱۳۷۳) ه ش کال د سرطان پر (۱۹) د قلبې حملې له امله د کوئټې په ښار کي په حق ورسېدئ. روح دي ابدي ښاد وي.

د ارواښاد ښاغلي "ریدي" د شعرونو مجموعه چه همدا اوس تر چاپ لاندي ده چه ارواښاد ښاغلي اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور "رشاد" صاحب په لاندي نوم ونومول.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017